PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه
شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او ای انسانه! نه نه گورې چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلېږي. او اسمان یې ټینگ نیولي چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه رانپرېوزي بې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړئ بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. رښتیا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت:
از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۵ مه گڼه، پرله پسې ۲۰۴ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د غویي ۴ مه د۱۴۳۴ هـ ق د جمادی الثانی ۱۴ مه د۲۰۱۳ م د اپریل ۲۴ مه

د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ټولنې د مشرتابه او اجرایې شورې ټاکنې ترسره شوې

ځارنوال امیرخان متقی
داکتر سیف الدین عمرخیل

داکتر سیف الدین عمرخیل د ځوانانو ټولنې د رئیس او ځارنوال امیرخان متقي د مرستیال په توگه وټاکل شول

دروان لمریز کال دغوایي دمیاشتې په لومړۍ نیټه دحزب اسلامي په مرکزي دفتر کې د ځوانانو د مشر، مرستیال او اجرایې شورا د ټاکنو په موخه غونډه ترسره شوه، غونډه دسهار په ۹ بجو دقاري صاحب عتیق الله له خوا دقرانکریم دځو مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل شوه، غونډې ته دحزب اسلامي افغانستان رئیس او داقتصاد وزیر ښاغلي عبدالهادي ارغندیوال خپله عالمانه وینا واوروله، ښاغلي ارغندیوال دخپلې وینا په ترڅ کې پرځوانانوغږ وکړ ترڅو دټولنې په وړاندې د سترومسؤلیتونو احساس وکړي ښاغلي ارغندیوال له ځوانانوڅخه وغوښتل ترڅو خپلې جارې داسلام دمبین دین ترچتر لاندې تنظیم کړي.
وریسې دحزب اسلامي افغانستان د دارالانشاء

رئیس ښاغلي تورن غلام سخي خبرې وکړې نوموړي ځوانان دټولنې پیاوړی قشر وباله او ځوانانو ته په خپلو چارو کې دلابریا هیله وکړه دغونډې په ترڅ کې دحزب اسلامي افغانستان دځوانانوټولنې مشر ښاغلي داکتر
پاتې دریم مخ

دومین مرحله تمویل و ترمیم قوای هوایی به کمک ناتو و روسیه آغاز شد

این پروژه ارزش زیادی برای افغانستان دارد و نشان می‌دهد که تلاشهای شورای ناتو-روسیه نقش مهمی در تامین امنیت و ثبات در افغانستان دارد

بروکسل، پژواک:
با آغاز مرحله دوم برنامه حمایت از قوای هوایی افغانستان، وزیران خارجه کشورهای عضو ناتو و روسیه بر سر ادامه حمایت ازآن موافقت کردند.
این توافق درنشست موسوم به شورای ناتو-روسیه، دیروز سه شنبه در بروکسل مقر ناتو به دست آمد.
اندرس فوگ راسموسن، سرمنشی سازمان ناتو دریک نشست خبری به خبرنگاران گفت که با آغاز این مرحله، که از طریق صندوق مالی شورای ناتو و روسیه تمویل می گردد...
بقیه در صفحه ۴

گرایش ها و سازش ها

(تورن غلام سخی) - صفحه دوم

گردهمایی بزرگ اراکین حزب اسلامی در ولایت بدخشان

صفحه سوم

د طالبانو له لوري د ترک اتباعو یرغملېدا به په انقره کې د دفتر پرانستنه ستونزمنه کړي

ترکیه تیاره ده چې د خپلو انجنیرانو د خلاصون لپاره شاوخوا ۴ ملیون ډالره ورکړي، خو طالبانو د دې وړاندیز په ځای په ترکیه کې د دفتر پرانستنه غوره بللې ده.

کابل، رسنۍ:
د طالبانو له لوري د اتو ترک انجنیرانو برمته کېدا د دې ډلې هغه هلې ځلې له ستونزو سره مخامخولی شي چې په ترکیه کې یې د یوه دفتر د پرانستلو لپاره په وروستیو کې پیل کړې دي.
د سي بي ایس نیوز د خبریال سمیع یوسفزي
پاتې ۴ مخ

که په رشوت ورکولو نه شرمېږې، په اخیستلو یې ولې شرم وکړې؟!

محمد خلیل



پیمان د تیرې میاشتې په ۲۶ مه ویلي وو، چې ددې جرگې اتیا سلنه غړي په اداري فساد کې لاس لري او د وزیرانو د استیضاح په موضوع کې د ولسي جرگې اتیا تنه غړو بډې اخیستي دي، خو هغه د یکشنبې په ورځ د جرگې په عمومي غونډه کې وویل: د وزیرانو له استیضاح وروسته، د یو وزیر یو نږدې همکار چې د اسنادو له لړلو پرته یې د جرگې غړي په بډو اخیستو تورن کړي وو، عبدالودود د ولسي جرگې غړي عبدالودود پیمان له دې امله له جرگې بشپړه غوښتې چې
پاتې دویم مخ

پاکستان موخو ته د رسېدو لپاره ستراتیژي پلې کوي

"د خینو سناتورانو د توندو خبرو ترڅنگ یوشمېر نورو سناتورانو، راغوښتل شویو چارواکو ته ان پېغورونه هم ورکول."

کابل، رسنۍ:
افغان چارواکي وایي تر څو چې پاکستان په افغانستان کې خپلې گټې نه وي تر لاسه کړې، په دغه هېواد به له لاسوهنې لاس په سر نه شي. افغان چارواکي پرخپل گاونډي هېواد نیوکې کوي چې گواکې غواړي د دواړو هېوادونو ترمنځ پوله په زوره پر افغانستان ومني.
دغه خرگندوني پرون (اپریل ۲۳) د افغانستان...
پاتې ۴ مخ

یک شورا به منظور بهبود روابط پولیس با مردم ایجاد شد



کابل، رسانه ها:
وزارت داخله افغانستان به منظور بهبود روابط پولیس با مردم، شورای را زیر نام شورای مشورتی پولیس ملی افغانستان ایجاد کرد.
وزیر داخله افغانستان می گوید، آنان بخاطر کسب اعتماد مردم نسبت به پولیس و هر چه بهتر ساختن این روابط تلاش می ورزند. ...
بقیه در صفحه ۴

پاکستان یو وار بیا پر کونړ توغندي وویشتل

په تیرو څلورویشت ساعتونو کې د دغه ولایت پر داګام ولسوالۍ لږ تر لږه ۲۴ توغندي لگېدلي دي

کابل، رسنۍ:
پاکستاني پوځ پرون یو ځل بیا د کونړ ولایت پر سرحدي سیمو توغندویي بریدونه وکړل.
دا حملې په داسې وخت وشوې چې د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو د وزیر په بلنه حامد کرزی او جنرال کیاني بلجیم ته روان شوي دي. جان کیري د دوو هېوادونو د اړیکو د ښه کولو او د افغانستان د سولې د بهیر د چټکولو لپاره د افغانستان او پاکستان اصلي تصمیم نیوونکو ته د خبرو بلنه ورکړې ده. ...
پاتې ۴ مخ

پیام امتنانیهٔ دارالانشاء حزب اسلامی افغانستان

بر بنیاد قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان، مقرره ثبت احزاب و قانون احزاب سیاسی باید هر حزب سیاسی که جواز فعالیت را اخذ نموده دارای (۲۰) نمایندگی در سطح کشور باشند.
طبق هدایت مقام محترم وزارت جلیله عدلیه هیأت غرض ارزیابی موضوع مذکور به ولایات کشور اعزام گردید. هیأت مؤظف بعد از بررسی دقیق و همه جانبه (٢٤) دفتر حزب اسلامی را در تمام ولایات وطن عزیز ما مورد تائید قرار داد، که مکاتیب آن از طریق مراجع مربوط به وزارت عدلیه مواصلت ورزیده است. دو نمایندگی دیگر آن در ولایت بادغیس و فراه که از طرف هیأت مذکور تائید گردیده، ذریعه مکاتیب ١٧٥/١٤٣ - ٢٦-١-١٣٩٢، ٨٢/٢٩ - ٢٩-١-١٣٩٢ به دفتر حزب اسلامی خبر داده شده است که به اساس آن حزب اسلامی اولین حزبیست که در تمام افغانستان معیار تعیین شده وزارت محترم عدلیه را با داشتن پایگاه مردمی، معیاری بودن، مطرح بودن، افغانستان شمول بودن و با حضور گسترده ملیت ها و اقشار مختلف تکمیل نموده و این پیروزی بزرگ را بدست آورده است و مصمم است تا در اینده در (٣٤) ولایت افغانستان دفاتر خود را توسعه و گسترش بخشد.
بدین وسیله دارالانشاء حزب اسلامی از زحمات دفاتر محترم حزب اسلامی، (ریاست حزب، امور ولایات، مسؤولین دفاتر ولایتی، امور سیاسی، تنظیم محترم جوانان و امور فرهنگی) که بخاطر فعال ساختن، تنظیم و تکمیل اسناد دفاتر مذکور زحمات فراموش ناشدنی را متقبل شده اند اظهار سپاس و امتنان نموده و تلاش های بیشتر شانرا در راستای وحدت و همبستگی متعهدین حزب و ملت مسلمان افغانستان از خداوند قدیر خواهان است و این پیروزی بزرگ را که نمایانگر قدرت مردمی و سیاسی حزب در سطح کشور است به فرد، فرد متعهدین مؤمن حزب اسلامی وملت مجاهدپرور ماتبریک وتهنیت عرض مینماید.

تورن غلام سخی
رئیس دارالانشاء حزب اسلامی افغانستان

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د سولې په بهير کې د چا رول مهم دی؟!

په افغانستان کې د سولې د ټينګښت په اړه ګڼ نظرونه ورکول کېږي ځوک وايي پاکستان، ايران او چين مهم رول لوبولی شي او ځوک وايي چې که امريکا او ناټو غړو هېوادونه د زړه له کومې مرسته وکړي په افغانستان کې به يو تلپاتې سوله او امن راشي، که څه هم دواړه نظرونه تر يوه حده پخپل ځای وزن لري او ددغو هېوادونو رول مهم دی خو د ډيرو په اند په افغانستان کې د سولې د ټينګښت لپاره تر ټولو مهم او بنسټيز رول پخپله د افغانانو دی تر څو پورې چې افغانان پخپله، خپل ايماني او افغاني مسؤوليت ادا نه کړي د نورو هېوادو رول څه نتيجه نشي ورکولی. که واقعيت ته ښه ځير شوو او د افغانستان د مشکل جرړې ولټوو نو له هر څه دمخه زموږ خپل بې اتفاقي او خپل بې کفايتي په نظر راځي، همدا موږ يو چې د خپلمنځيو بې اتفاقيو له لارې نورو هېوادو ته د لاسوهنې فرصت برابر کړې، چې کله هم موږ افغانان پخپلو کې سره يو موټې او يو لاس شو، د اتفاق او يووالې په فولادي صف کې ودرېږو نو بهرنۍ مداخلې به پخپله له سقوط او ناکامي سره مخامخ شي، خو ډېر افسوس، ددې پرځای چې له هر څه دمخه د خپلو بې اتفاقيو مخه ونيسو او خپلې نيمګړتياوې پوره کړو برعکس لګيا يو د نورو هېوادو د رول د اهميت په اړه خبرې کوو، په داسې حال کې چې تر څو پورې موږ خپل اصلي رول نه وي لوبولی د نورو هېوادو رول څه اهميت نه لري.

له دې څرګند واقعيت نه په هېڅ ډول سترګې نه شو پټولی چې افغانستان ته ځومره تاوانونه بهرني هېوادونو د خپلو ګټو او موخو د ترلاسه کولو په خاطر رسولي له هغوی نه زيات تاوان پخپله د افغانستان چارواکو او ګڼو سياسي تنظيمونو هم رسولی دی، که هغوی د دولت په خلاف د مخالفينو د روزلو او مسلح کولو له لارې د افغانستان امن او استحکام ته تاوان رسوي نو ددغې خاورې چارواکي هم د فساد، درغلي، رشوت، بې انصافي، قوم پرستي او ناروا اختلافاتو د رامنځته کولو له لارې خپل هېواد له بې ثباتي سره مخامخ کوي خو که د دواړو تاوان ته وکتل شي نو له بهرنۍ تاوانونونه داخلي تاوانونه زيات خطرناک دي، يو هېواد تر هغه د بهرنيو يرغل او لاسوهنو څخه مصؤن نشي پاتې کيدلی تر څو پورې چې داخلي استحکام يې نه وي پياوړې شوې او چې کله هم داخلي استحکام يې غښتلې شي نو د بهرنيو لاسوهنې پخپله بندېږي.

که په دې هېواد کې فساد، درغلي، بې اتفاقي، چور و چپاول، غصب، سياسي نادری، بې عدالتي او ناخوالې د پخوا په څېر روان وي او افغانان پخپل لاس د خپل هېواد د بې ثباته کولو او ورانولو چارې پرمخ بيايي نو بيا د افغانستان په ثبات کې د بل هېڅ هېواد رول قاطع او مهم کيدلی نه شي.

د هر هېواد امن، استحکام. ثبات، استقلال او دفاع پخپله دهمغه هېواد اوسېدونکو په غاړه ده ځکه خو د نړۍ ټول هېوادونه منظم پوځ او پوليس لري، د قانون احترام کوي او خپل ملي يووالی او قومي جوړښت ته ټينګه پاملرنه کوي.

د بيلګې په توګه د شمالي کوريا ولس ته وګورئ چې هغوی د خپل ملي يووالې او قومي جوړښت په برکت د امريکا او جنوبي کوريا غوندې هېوادونو په خلاف د غره په څېر کلک ودريدلي او د څو کلونو اقتصادي بنديزونو باوجود ښه د عزت او امن ژوند تيروي، نه امريکا دهغه په داخلي چارو کې لاسوهنې کولې شي او نه نور غربي نړۍ، که نن د شمالي کوريا وګړي او چارواکي د بې اتفاقۍ پر پولو کيني پخپل هېواد کې د فساد، درغلۍ او بې عدالتي بازار ګرم کړي نو سبا ته به هغه هم د افغانستان په سرنوشت اخته شي او له هرې لورې به بهرنۍ لاسوهنې دهغوی امنيت او ثبات وګواښي.

که واقعاً موږ افغانان په خپل هېواد کې تلپاتې سوله، امن او خپلواکي غواړو نو بيا نورو ته د سولې د راوستلو د ننواتي او دهغوی رول ته د انتظار د شيبو د شمارلو پرځای ددې خبرې کلک ضرورت دی چې د خپل رول لوبولو ته ملا وتړو ځکه چې د افغانستان د امن او ثبات لپاره د نورو هېوادو له رول نه زموږ د افغانانو خپل رول زيات مهم او مؤثر دی او تر څو پورې چې مو خپل رول نه وي لوبولی د نورو هېوادو رول څه معنی نه لري او نه هم هغوی ددېته چمتو کېږي چې د افغانانو خپلمنځي بې اتفاقيو په نتيجه کې هغوی ته کومې ګټې ترلاسه کېږي له هغو نه منصرف شي. د نورو هېوادو رول زموږ له رول سره اړيکه لري، چې کله هم موږ پخپل هېواد کې خپل رول په صحيح معنی ولوبوو نو د نورو هېوادو رول به هم په صحيح سمت وڅرخېږي او افغانستان به د امن او ثبات په ښکلی بڼ بدل شي.

گرایش ها و سازش ها

تورن غلام سخی

از زمانیکه طنطنه، خروج سربازان خارجی در سال ۲۰۱۴ م در تمام رسانه های تصویری و صوتی خبرساز گردیده و صدای انتخابات بخاطر احراز پست ریاست جمهوری جغرافیای سیاسی میهن ما را فشرده است، در داخل و خارج از کشور هوتل نشینی ها، شب نشینی ها، تماس های انترنتی، فیس بوک ها و موبایل ها آنقدر گرمی بازار پیدا نموده که از تصور بیرون است. شخصیت های از بیرون مرزها با شوق نشستن بر اریکه قدرت با زرق و برق و با قیافه های جالب و تضرع آمیز با کیسه های نیمه خالی از زر و آویزهای بانکی و وعده های فریندهٔ کشورهای خارجی از طریق فضا و زمین وارد کشور می شوند و در هر بیشه و گوشه، ترصد کنان به فکر جلب و جذب و شمارش افراد میباشند. بازار ائتلافات و گرایش ها و از جانبی ساختن جبهات مشترک و سازماندهی احزاب و دعوت بزرگان قوم، افراد متنفذ وغیره حلقات مطرح بسرعت محلات مردمی را اشغال مینمایند. احزاب سیاسی با ارایه خط مش و پیشنهادات و طرح های مختلف بخاطر تقلا برای سیادت در عرصه سیاست حکومتداری و گرفتن قدرت با حرارت و گرمی خاص معامله مینمایند. حکومت هم آرام نه نشسته بخاطر پیروزی در انتخابات و سرنوشت آینده خویش نیز دست به فعالیتها و سازماندهی های گسترده زده است که ما شاهد تغییرات و تبدلات در عرصه های مختلف تشکیلاتی و سیاسی میباشیم. که این خود تلاش بخاطر حفظ قدرت سیاسی را نشان میدهد.

کاندیدهای مختلف در زبان مردم افتیده است و بازار سرچوک گرمی خاص پیدا نموده است، رزیدن های مردمی، گروهی و خریداری افراد ذریعه پول و وعده های این و آن همگی را سراسیمه ساخته. افرادی استخدام شده اند تا برای کاندیدان که تا بحال روی میدان سیاسی داخل نشده اند با دادن پول برای مردم و وعده های ریاست و وزارت، کاندیدان آینده کشور را در خیال و تصور غرق نموده اند. احزاب خورد و کوچک هم از ترس اینکه فردا از دایره قدرت بیرون نمانند، با یکدیگر گردآمده و بدون تفکیک عقیده و مرام با هم به شکل جبهات سیاسی خود آرایی میکنند. قانون انتخابات و قانون تشکیل صلاحیت ها وظایف کمیسون انتخابات که از طرف کابینه پاس گردیده در پارلمان کشور تحت غور و بررسی قرار گرفته، و احزاب و گروه ها منتظر تصویب قانون مذکور از طریق پارلمان کشور میباشند تا با مطالعه قانون جدید بتوانند نقش مهمی را در پارلمان کشور بازی نموده و از طریق نماینده گان مردم در بین طبقات مختلف جامعه داخل شده و بخاطر انتخابات ریاست جمهوری بیشتر تلاش نمایند. کشورهای خارجی هم هر روز با تدویر کنفرانس ها و دادن بیانیه ها و از طریق رسانه ها بخاطر انتخابات شفاف و عادلانه در سال ۲۰۱۴ حکومت و مردم ما را وعدهٔ همکاری میدهند. وضعیت امنیتی کشور را گاه گاهی قناعت بخش میخوانند. دولت هم گاهی مشکلات امنیتی را دنبال میکند و گاهی هم از امنیت سرتاسری صحبت مینمایند، کم علاقه گی حکومت نسبت به انتخابات و طرح های مختلفی که ارایه می نمایند، نمایانگر عدم دلچسپی حکومت را نسبت به انتخابات ریاست جمهوری نشان میدهد. همچنان انتخاب رئیس کمیسون انتخابات از دلایل دیگریست که بیشتر اندیشه ها را متوجه فردایی نابسامان ملتهب سیاسی کشور می سازد.

گرایش ها و سازش ها به حدی رسیده است که همه جایگاه اصلی خود را فراموش نموده اند و چشم را بسوی ریاست و وزارت دوخته اند. هیچ کسی در فکر آن نیست که در تشکیل آینده پست پائینتری داشته باشد. همگی میخواهند که ریاست جمهوری و یا در کابینه آینده کشور حضور قوی پیدا کنند ولی فکر نمیکنند که آیا بدون درنظر نگرفتن احزاب مطرح در صحنه سیاسی افغانستان که حضور فعال و گسترده در تمام ساحات کشور دارند، ممکن است به ارگ ریاست جمهوری قدم گذاشت، اگر گروه ها و یا شخصیت ها احزاب مطرح که از حمایت مردمی برخوردارند بدست فراموشی بسپارند، مستحیل خواهد بود که با داشتن چنین اندیشه و تفکر بتوانند مراسم تاج پوشی را در کاخ ریاست جمهوری انجام دهند. اگر با سازش و حمایه کشورهای خارجی بخواهند بر نفوس مردم ما اراده خود را تحمیل نمایند، ناممکن به نظر میرسد در چنین وضعیت اسف بار بتوانیم بر تقدیر و سرنوشت این ملت مسلمان رقم بزنیم، گرایش ها و سازش ها نباید بدون اهمیت و خواست ملت مجاهد و دیانت شعار ما صورت پذیرد، که آینده آن ناگوار و عاقبت آن ناهنجار و ادامه، آن نااستوار خواهد بود.

که په رشوت ورکولو نه شرمیږي، په اخیستلو یې ولې شرم وکړي؟!

(د لومړي مخ پاتې برخه)

...زما ډېر دوست هم دی، ماته راغی او راته يې وويل، چې دهغو اتيا تنو وکيلانو ليست ورسره دی چې له وزيرانو څخه يې پيسې اخيستې دي، دهغه ددغو خبرو په اورېدو سره په احساساتو کې راغلم او دغه خبره مې له خبريالانو سره شريکه کړه.

عبدالودود پيمان لدې کبله له جرګې ښښنه غوښتې چې د اسنادو له لرلو پرته يې د جرګې غړي په بډو اخيستو تورن کړي دي، دا د پيمان صاحب خپل اخلاقي فرض و چې ترسره يې کړ او له اسنادو پرته تور لګول يې يو ډول ګناه وباله، خو ستونزه په دې کې ده چې ډېر ګناهونه داسې دي چې له اسنادو پرته د ګناه د ارتکاب ثبوت وړاندې کيدلی شي د مثال په ډول په دې هېواد کې په سلو کې ۹۹ حکومتي چارواکي داسې دي چې دهغوی د درغليو په اړه کره شواهد او اسناد له چاسره نشته خو دهغوی دا بې حسابه مال او دارايي پخپله دهغوی په فساد او درغلی ګواهي ورکوي. هغه والي، وزير، مشاور، معين، ښاروال، رئيس او قاضي چې وړاندې د يو کور او د څو بسوو زمکو مالک نه و، د څو کلو د دندې په اجرا کولو په هېواد کې دننه او باهر د بنګلو، بلند منزلونو او لسګونو سلګونو جريبو زمکو خاوند څنګه شو؟! ايا هغه د خپل قانوني معاش له لارې د دومره غټې سرمايې او جايدادونو مالک کيدلی شو؟ نوځکه دهغه دومره غټه سرمايه او جايداد دهغه د درغلی او فساد لپاره تر ټولو لوی ثبوت او سند دی له دې نه زيات بربنډ او څرګند ثبوت بل څه کيدلی شي؟

په دې هېواد کې د فساد، درغلي او بډې اخيستنې شکايت عام دی، فساد هم شتون لري او غصب هم، بډه هم اخيستل کېږي او بيت المال کې خيانت هم په درز کې روان دی، له ولسمشر کرزي نه نيولې تر ملازم پورې له فساد نه سر ټکوي او په ټوله نړی کې افغانستان د فساد په لست کې لومړی درجه هېواد ښودل شوی دی.

د تېرو يولسو کلو راهيسې يو څو ځيرې دي چې د افغانستان واګې يې په لاس کې ورکول شوي دي ايله دومره کېږي چې د ولس له خوا د ډېرو شکايتونو او مظاهرو وروسته د يو ولايت د والي تبادله بل ولايت ته کېږي او دېته نه کتل کېږي چې ده خپله دنده څنګه اجرا کړې، څومره خدمت يې کړی او څومره د هېواد او ولس په ګټه کارونه يې کړي دي؟ همدغه شان وزيرصاحب هم ايله له يو وزارت نه بل وزارت ته معرفي کېږي، دهغه مخکينې خدمت او کار کردګی ته نه کتل کېږي چې د وزارت دنده يې څومره په شفافيت ترسره کړی، ايا لاسونه يې په فساد کې ککړ دي که نه؟ غصب، چور، تالان او خيانت يې کړی که نه؟ که يې کړي بيا ولې ورته د بل وزارت دنده ورته ورکول کېږي او که يې نه دی کړی بيا پخپله ولسمشر کرزی، ولس او رسنی ولې ترينه شکايت کوي؟!

دا به يوه معجزه وي چې کوم وزير، معين، والي، رئيس، ښاروال او نور لوړ پوړي چارواکي په فساد کې ککړ نه وي، د هر چا بې حسابه او بې کتابه دارايي له ورايه غږ کوي چې خامخا درغلي شوې او ښه پريمانه شوی.

په نورو هېوادو کې د چارواکو دارايي له وړاندېنه ثبت کېږي او کله چې دهغه په مال کې څه زياتوالی راځي نو حساب ترينه اخيستل کېږي چې دومره سرمايه دې له کوم ځای کړی، خو په افغانستان کې هر څه سرچپه دي، هرڅوک چې په لوړو څوکيو ټاکل کېږي ورسره جوخت دا تصور موجود وي چې دا به په لږه موده کې د افغانستان د لويو سرمايه دارانو په لست کې شامل شي، ځکه خو په دې هېواد کې د څوکيو د ترلاسه کولو لپاره خلک سرونه ماتوي، رشوتونه ورکوي او له هر ډول ناروا لارو څخه ګټه اوچتوي.

ډيری وکيل صاحبان هم له دې ګناه نه مستثنی نه دي، هر وکيل د لکونو ډالرو په تاوان پارلمان ته راځي که وکيل واقعاً د خلکو د صحيح خدمت لپاره پارلمان ته ځان کانديدوي نو بيا د دومره لوی تاوان څه ضرورت دی چې له خلکونه د رای د ترلاسه کولو لپاره کوي او د ثواب کار د رشوت په ورکولو سره کوي؟! پکار خو دا دی چې په دې نيک کار کې مؤکلين له وکيل سره له څه رشوت پرته مرسته وکړي، خو دلته موکلينو ته له وړاندينه دا معلوم وي چې هغه د خدای رضا لپاره نه، بلکې د پيسو د ترلاسه کولو لپاره پارلمان ته ځي تر څو هر اړخيزې ګټې ترلاسه کړي، له همدې کبله مؤکلين هم خپله رای وړاندې خرڅوي، داسې وکيل صاحب چې پارلمان ته راځي هغه کله هم پاک نشي پاتې کيدلی، او په پارلمان کې چې څومره سودا بازي کوي پر هغه هېڅ ډول تعجب او حيرانتيا نه ده پکار، هغه دفساد او درغلی سند له وړاندينه ورکړې وي او دا يې ثابته کړې وي چې څنګه د رايو د ترلاسه کولو لپاره رشوت ورکولی شم همداسې رشوت هم اخيستلی شم، که رشوت ورکول ګناه نه ګڼم، رشوت اخيستل هم د خپلې مور شيدې ګڼم، نو ځکه که وکيل صاحب رشوت واخلي تعجب وړاندې نه دی پکار، څنګه چې په رشوت ورکولو نه دی شرميدلی همداسې په اخيستلو هم نه شرمېږي.

مرحوم سید محمد قاسم (الرضوی)

سید محمد قاسم (الرضوی) آغا ولد مرحوم سید جعفر از قریه دلخک ولسوالی جیغتو ولایت غزنی چشم به جهان گشود.

تعلیمات ابتدائی را در قریه مذکور نزد پدر آموخت، بعد از فراگرفتن تعلیمات ضروری دروس دینی علوم عالی و اساسی را در مزارشریف و در مناطق مختلف جیغتو نزد علما و فضلا به پایه اکمال رسانید. مرحوم سید قاسم آغا زمانیکه به کشور ایران مهاجر گردید، آرام نه نشسته به ادامه تحصیل خویش نزد علمای جید آندیار پرداخت.

مرحومی بعد از کودتای ننگین هفت ثور رهبری قیام را در ولسوالی جیغتو به عهده داشت که بعداً بصفت آمر حوزۀ حیدریه تعیین گردید، در اوایل سال ۱۳۵۸ هـ ش در اوایل انقلاب اسلامی با تفنگ ۹ تیره جرمنی با چند تن از همدستانش در برابر دولت ملحد کمونیستی حمله و قد علم نمودند، این حرکت تا مدت یکسال ادامه داشت. تا اینکه ایشان در اوایل سال ۱۳۵۹ با تحلیل و تفکر که نسبت به حزب اسلامی داشت به صفوف مجاهدین حزب اسلامی پیوست و افتخار عضویت حزب اسلامی را کمایی نمود و با دیگر همکاران و مجاهدان همسنگر خود یکجا در سنگرهای داغ جهاد سهم بارز گرفتند، و تا خروج سربازان شوروی از افغانستان در برابر قوای اشغالگر و همدستان داخلی شان با قامت رسا به جهاد و مبارزه پرداخت. با سقوط دولت کمونیستی و پیروزی حکومت مجاهدین در پهلوی برادران همرزم و هم هدف خود یکجا تلاش های خستگی ناپذیر بخاطر تحکیم نظام اسلامی و وحدت ملی در افغانستان انجام میداد. با آمدن طالبان با مشکلات که مواجه گردید و راه مهاجرت پیش گرفت و به کشور ایران پناهنده شد.

این مرد بزرگ با تحمل مشقت و رنج های دیار هجرت بالاخره در محل سال روان داعی اجل را لبیک گفت و به دیار باقی شتافت.

انا لله و انا الیه راجعون

د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ...

سيف الدين عمرخيل هم دخپلې وينا ترڅنګ دتيربوکال کاري راپور وړاندي کړ.

همدا ډول دغونډي په لړ کې دحزب اسلامي افغانستان داجرايي شورا غړي بناغلي مولوي صاحب سرفراز هم دځوانانو په رول مفصلې خبرې وکړې. وروسې دټاکنودبهير لپاره اووه کسيزه کميسون جوړ شو، په دغه کميسون کې دهيواد له شمالي زون څخه استاد سيدکاظم صادق، له خيتځ زون څخه ډاکټر ساحل نصرت، له جنوب غرب زون څخه ډاکټر غلام حضرت حکيمي، له مرکز څخه ډاکټر صفي الله، قاضي ملنګ هوتک، انجينير احمدالله او انجينيررحيم خان رحماني برخه درلوده.

ددغه کميسون له منځ څخه ډاکټر ساحل نصرت د کميسون د مشر او ډاکټرغلام حضرت حکيمي د مرستيال په توګه وټاکل شول، د کميسون له خوا دوه تنه هر يو محمد عابد عابد او ډاکټر سيف الدين عمرخيل د ځوانانو د ټولنې رياست لپاره نوماندان ونومول شول. چې دټاکنو په پايله کې ډاکټر سيف الدين عمرخيل د رايو د غوڅ اکثريت د ترلاسه کولو پر بنسټ ددغې ټولنې دمشر په توګه وټاکل شو، همدارنګه درايو په توافق څارنوال اميرخان متقي دځوانانو دمرستيال په توګه وټاکل شو. په غونډه کې دکميسون له خوا ۱۹ تنه ځوانان دټولو معيارونو په پام کې نيولوسره اجرايي شورا ته نوماندان ونومول شول چې له يادو کسانوڅخه ۱۲ تنو وکړای شول چې اجرايي شوراته لاره ومومي چې عبارت دي له: ډاکټر صفي الله، استاد محمد داؤد شيرزاد، قاري اسدالله (شهاب)، محمد عابد عابد، مولوي عبدالباعث، انجينير احمدالله، قاضي ملنګ هوتک، قاضي عبيدالله حميدي، ډاکټرحنيف، ډاکټر قاري عاطف، استاد حکمت الله حکمت، او حبيب الرحمن ابراهيمي دځوانانو داجرائي شوار دغړيو په توګه وټاکل شول. چې د رئيس او مرستيال په ګډون داجرائي شورا ټول شميره ۱۴ کسانوته رسيږي دټاکنو بهير په بشپړه توګه روڼ او دټولو حاضرينولپاره د منلو وړ و، دټاکنو دغه بهير چې سهار مهال پيل شوي و مازديګر مهال دمولوي صاحب عبدالباعث په دعا پای ته ورسيده.

گردهمایی بزرگ اراکین حزب اسلامی در ولایت بدخشان

گردهمایی اعضای حزب اسلامی در ولسوالی خاش

گردهمایی اراکین حزب در دفتر ولایتی بدخشان

جلسهٔ عمومی حزب اسلامی افغانستان اخیراً در دفتر ولایتی بدخشان، در حالیکه بیشتر از دوصد تن از اعضای نخبه و برجسته حزب اسلامی اعم از علماً، قوماندانان و جوانان اشتراک ورزیده بودند، تدویر یافت.

جلسهٔ با تلاوت آیاتی از کلام الله مجید توسط قاری رحمت الله آغاز؛ بعداً محترم حمدالله دانشی رئیس شورای اجرائیه حزب اسلامی در ولایت بدخشان و معاون مقام ولایت کندز، پیرامون مبارزات برحق و دوامدار اعضای حزب در دوران جهاد الی اکنون در کشور، خصوصاً در ولایت بدخشان و سیاست های معقول حزب و چگونگی انتخابات و سهم گیری فعال اعضای حزب در گذشته و آینده و مسؤولیت های اعضای حزب به تفصیل صحبت نموده، خواهان یک انتخابات آزاد و شفاف و ایجاد یک حکومت مستقل اسلامی وغیر وابسته در آینده سیاسی کشور گردید.

به تعقیب ضیاء الدین (واثق) مسؤول دفتر ولایتی بدخشان گزارش مفصل از اجراآت گذشته دفتر ولایتی به اعضای حاضر در جلسه ارایه نموده مشکلات، چالشها و کمبودهای فرا راه دفتر را برجسته ساخته و پیشنهادات مشخصی را در رابطه به بهبود کارهای بهتر دفتر به حاضرین پیشکش نموده از اعضای حزب متوقع گردید تا بخاطر سهم گیری فعال شان در انتخابات کارت های انتخاباتی را بدست آورده و نقش فعال خویش را در زمینه ادا نمایند.

متعاقباً برادر هدایت الله (مشاهد) مسؤول جوانان حزب اسلامی در ولایت بدخشان ضمن گزارش مفصل کاری جوانان با ثبات حزب در این ولایت به تفصیل صحبت نموده، نقش جوانان را در حیات سیاسی حزب و تعیین سرنوشت آینده سیاسی کشور مؤثر خوانده، از اعضای جلسه و دفتر مرکزی در کابل خواست تا نقش و تأثیر جوانان را منحیث یک کتله عظیم و آینده ساز نادیده نگرفته از آنان در ابعاد مختلف سیاسی و اجتماعی حمایه همه جانبه نمایند.

هکذا محترم مولوی جمال الناصر یک تن از علمای جید، مبارز، مجاهد و سنگردار جهاد. پیرامون چگونگی دوران جهاد و مقاومت و وحدت و یک پارچه گی مسلمانان صحبت همه جانبه نموده و از حاضرین خواست تا ضمن وحدت و یک پارچگی شان از مقدسات و ارزشهای اسلامی و افغانی دفاع نمایند.

در اخیر محترم استاد عبدالقدیر مهان، استاد پوهنځی ژورنالیزم پوهنتون کابل ضمن ارزیابی جلسه در رابطه به ویژه گی ها و برتری های حزب اسلامی افغانستان، سیاست های معقول، موضیع گیری های سالم و طرح های اسلامی و انسانی حزب اسلامی افغانستان که سبب گردیده که موج عظیمی از مردم مسلمان افغانستان بخصوص جوانان به طرف حزب اسلامی روی بیاورند و عضویت پرافتخار حزب اسلامی افغانستان را کمایی کنند. صحبت مفصل و ثمر بخش نموده اضافه کرد: ما باید به اتکا به قدرت لایزال و ناظم کائنات و نیروی پرتوان حزب اسلامی عمل نمائیم و از سازش های شخصی و سلیقوی که بر مرکزیت، وحدت و یک پارچگی حزب صدمه میزند، بپرهیزیم. ضمناً محترم مهان راجع به ثبات، پایداری و وفاداری و تلاش های مؤثر جوانان و اعضای حزب صحبت نموده، سکون و ایستایی را در روند مبارزات اسلامی اعضای حزب در شرایط فعلی با استناد شعر علامه اقبال لاهوری:

«ساحل افتاده گفت گرچه بسا زیستم
هیچ نه معلوم شد، آه که من کیستم
موج زخود رفته یی تند خرامید و گفت
هستم اگر میروم، گر نروم نیستم»

ارایه فرمودند، از جوانان و اعضای حزب خواست تا با جد و جهد و تلاش شبا روزی در به پیروزی رسیدن آرمانهای حزب اسلامی افغانستان که همانا افغانستان آزاد، مستقل و متکی بخود مبارزه و کار و پیکار نمایند. و مجلس با دعائیه محترم استاد فضل الدین (تقی) یکی از علمای جید حزب اسلامی در ولایت بدخشان خاتمه یافت.

همچنان گردهمایی مشابه ای اعضای حزب اسلامی در ولسوالی خاش ولایت بدخشان در حالیکه تعداد زیادی از اعضای نخبه جوانان حزب اسلامی اشتراک ورزیده بودند در آن ولسوالی تدویر یافت، این جلسه با همکاری های همه جانبه ریاست دفتر ولایتی با اعزام هیأت ۳ نفری تحت ریاست هدایت الله مشاهد رئیس جوانان بدخشان و استاد عزیز احمد (واحدی) و عتیق الله (مشفق) در آن ولسوالی با اشتراک ۳۰ نفر از نماینده گان قریه ها با تلاوت چندی از آیات کلام الله مجید توسط یکی از اشتراک کننده گان تدویر یافت.

و بعداً محترم هدایت لاله (مشاهد) مسؤول جوانان حزب اسلامی در ولایت بدخشان پیرامون برنامه های کاری حزب. شیوه انتخابات تشکیلاتی حزبی برویت اساسنامه و نقش جوانان حزب در انتخابات آینده کشور و ابراز قدردانی از جوانان فعال حزب اسلامی در ولسوالی خاش صحبت مفصل نمود.

هکذا مسایل تشکیلاتی و انتخابات شوری های قریه وی و ولسوالی در فضای باز برادرانه صورت گرفت که در نتیجه محترم قاری عبدالباری مبشیر بحیث رئیس جوانان شورای ولسوالی. و ملا فخرالدین بحیث معاون جوانان ولسوالی و همچنان یک تعداد از برادرها بحیث مسؤولان کمیته های کاری تعیین و توظیف گردیدند.

د نه ړنګ مرتاسي غوره امت گر غولي پاسه چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

ورځپاڼه

د حزب اسلامي افغانستان شرانې ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمیرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه سترديږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین خواجه وحیدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

دومین مرحله تمویل و ترمیم ...

هزینه پرزه جات، ترمیم هلیکوپترهای نیروهای هوایی افغانستان پرداخت می شود.

وی با مهم خواندن این پروژه گفت: "این پروژه ارزش زیادی برای افغانستان دارد و نشان می‌دهد که تلاشهای شورای ناتو-روسیه نقش مهمی در تامین امنیت و ثبات در افغانستان دارد."

هدف این صندوق مالی، تقویت توانایی قوای هوایی افغانستان در استفاده موثرتر از ۴۷ هلیکوپتری است که این نیروها در اختیار دارند.

آموزش افراد در زمینه تخنیک هلیکوپتر و تامین پرزه‌جات برای ترمیم آنها بخشی از این پروژه است که دو سال پیش آغاز شده بود.

مطابق با این پروژه، تا اکنون ۳۰ تن در امور تخنیک هلیکوپتر آموزش دیده اند.

راسموسن گفت که شورای (ناتو-روسیه) دارای یک دیدگاه مشترک برای افغانستان به عنوان یک کشور امن، با ثبات و آرام هستند.

این توافق برای کمک به قوای هوایی افغانستان درحالی اعلام می شود که وزارت دفاع افغانستان همواره از کمبود قوای هوایی و تجهیز نبودن آن سخن گفته و خواستار کمکهای جامعه جهانی در این زمینه شده است.

د طالبانو له لوري د ترک ...

د راپور له مخې وسله والو طالبانو د دې لپاره چې انقره اجازه ورکړي چې په دغه هیواد کې طالبان یو دفتر پرانیزي دوه ترک انجنیران تېره میاشت له دوه کاله برمته کېدا وروسته خوشي کړل.

سمیع یوسفزی وایي چې تېره میاشت طالبانو د دې په بدل کې چې د ترکيې حکومت به په پلازمېنه انقره کې د دوی لپاره دفتر پرانیزي، دوه ترک انجنیران له دوه کاله برمته کېدل وروسته خوشي کړل.

یوه اروپایي دیپلومات د پاکستان په پلازمېنه اسلام اباد کې سمیع یوسفزي ته وویل:«د ترکيې حکومت د طالبانو غوښتنه ومنله او موافقه يې وکړه چې طالبان په ترکيه کې یو کوچنی دفتر لرلی شي.»

دغه دیپلومات، چې نه يې غوښتل نوم يې واخیستل شي، د سولې پر روانو هلوځلو هم خبرې وکړې، ویې ویل: طالبانو خپل یو استازی د ترکيې د نوي دفتر لپاره نومولی دی، خو ده په عین حال کې وویل چې لا څرګنده نه ده چې د طالبانو له لوري نومول شوی استازی مولوي نېک محمد به په ترکیه کې د تل لپاره پاتې کېږي او که یوازې به دې هیواد ته سفر کوي.

په کوټه کې د طالبانو سرچینو ویلي، طالبان لېواله دي چې په ترکيې کې دفتر پرانیزي څو خپلې اړیکې پراخې کړي.

ترکیه له پاکستان سره خورا تودې او نږدې اړیکې لري او له همدې کبله هم ګومان نه کېږي چې طالبان دې ۹ تنه ترک اتباع یرغمل وساتلی شي.

د افغانستان په جنوب ختیځ کې یوه طالب قومندان سمیع یوسفزي ته وویل، د طالبانو لپاره به د نیول شویو ترک عمله او اتباعو نیونه یوه لویه معامله او ازموینه وي.

دغه قومندان دا خبره په داسې حال کې کړې چې د طالبانو ویندوی ذبیح الله مجاهد نیول شوي کسان امریکايي پوځیان او دوه افغان ترجمانان بللي دي.

نورو اروپایي دیپلوماتانو سمیع یوسفزي ته ویلي چې د دغو ترکانو برمته کېدا به طالبانو ته نوی فرصت په لاس ورکړي چې د ترکيې له حکومت سره به خبرو کې د معاملې لپاره امتیاز ترلاسه کړي.

د طالبانو سرچینو یوسفزي ته ویلي چې ترکیه تیاره ده چې د خپلو انجنیرانو د خلاصون لپاره شاوخوا ۴ ملیون ډالره ورکړي، خو طالبانو د دې وړاندیز په ځای په ترکیه کې د دفتر پرانسته غوره بللې ده.

خو یوه بل طالب قومندان سمیع یوسفزي ته ویلي چې دا خل به د هیلي کوپټر د عملې په اړه بل ډول دریځ ولري. ده ویلي:«اوس طالبان پیسو ته خورا زیاته اړتیا لري، او دا په ۲۰۰۷ م کال کې د ۲۲ کوریایانو له برمته کېدو وروسته تر ټولو لویه یرغمل نیونه ده.»

ده همداراز ویلي:«خدای پاک د توقع خلاف نغدې پیسې له اسمانه رابانندې وروليې.» ده ترک یرغمل د خدای ورکړه وبلله او ویې ویل چې د دغو ترکانو د خلاصون په بدل کې به د زیاتو پیسو غوښتنه وکړي.

دې ته په پام سره چې ازره ولسوالي له وزیرستان سره یوازې شل کیلومتره واټن لري غالب ګومان دا دی چې یرغمل شوي کسان به پاکستان ته وړل شوي وي.

پاکستان موخو ته د رسېدو ...

لوی درستیز او د بهرنیو چارو مرستیال وزیر مشرانو جرګه کې سناتورانو ته کوللې، چې ګوشتې ولسوالۍ کې د پیښې شوې ستونزې په اړه وربلل شوي وو.

د افغان چارواکو دغه څرګندونې داسې مهال مخې ته راغلې چې افغان ولسمشر حامد کرزی بروکسل ته تللی او د امریکا په منځګړیتوب غواړي له پاکستاني چارواکو سره په راتلو کېدلو لانجو خبرې وکړي.

د افغانستان د دفاع وزارت وایي، پاکستان خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ځانګړې ژګلارې لري، چې د رسېدو لپاره يې له هر امکانه کار اخلي.

د افغانستان لوی درستیز شېرمحمد کریمي وایي، پاکستان خپلو ځانګړو موخو ته د رسېدو لپاره خپله ستراتیژي پلې کوي.

د مشرانو جرګې غړو له دغو چارواکو ځواب غوښت، چې ولې د پاکستان له خوا د تېریو مخه نه نیوله کېږي؟

د ځینو سناتورانو د توندو خبرو ترڅنګ یوشمیر نورو سناتورانو، راغوښتل شویو چارواکو ته ان پېغورونه هم ورکول.

خو لوی درستیز شېرمحمد کریمي د سناتورانو د پوښتنو په ځواب کې وویل، چې د پاکستان له خوا د دویمې دروازې په هکله خبرنې رواني دي، چې ایا په رښتیا هم دویمه دروازه جوړېږي او کنه؟

ښاغلي کریمي زیاته کړه، سره له دې چې پاکستان تل پرخپلو ژمنو عمل نه دی کړی، خو اوس بیا هم سیاسي هلې ځلې رواني دي، خو د هغه په وینا، که کومه نتیجه ورنه کړي، وروستی پرېکړه د ملي شورا او حکومتي چارواکو ده چې څه ډول ګام پورته کوي.

بل لور ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وایي، پاکستان د افغانستان د امنیت لپاره ستر ګواښ دی.

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال جاوید لودین وایي، د ډیورنډ کرښې پرسر هرډول اقدام یوه لویه ده، چې افغان حکومت هڅوي، د ډیورنډ کرښې موضوع راپورته کړي.

د بهرنیو چارو وزارت وایي، په سرحدي سیمه کې یوازې د دروازې مساله نه ده مطرح، بلکې اصلي مساله د هغو ۱۱ پوځي تاسیساتو ده، چې ۱۱ کاله مخکې د ناټو لخوا جوړ شوي وو، خو اوس پاکستاني پوځ پرې ولکه ټینګه کړې ده.

بهرنیو چارو وزارت اوس له پاکستانه غواړي، چې دغه تاسیسات پر بېرې او بېرته خپلو پخوانیو ځایونو ته ستانه شي.

افغان حکومت دا هم وایي، چې له ایساف ځواکونو سره د پروتوکول له مخې باید دغه ځواکونه پر پاکستان فشار راوړي، چې خپل دغه بریدونه بند کړي.

خو دا به د بلجیم په پلازمېنه بروکسل کې د درې اړخیزې غونډې په پای کې روښانه شي، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ رامنځ ته شویو ناندریو ته څه ډول حل لارې موندل کېږي.

یک شورا به منظور بهبود ...

غلام مجتبی پتنگ در نخستین نشست شورای مشورتی پولیس ملی به روز سه شنبه در کابل حمایت نهاد های جامعه مدنی از پولیس ملی افغانستان را در ایجاد اعتماد میان مردم و پولیس موثر خواند:

"آرزو دارم که با ایجاد شورای مشورتی پولیس ملی، وزارت داخله بتواند دیده گاه های نهاد های جامعه مدنی را در استراتیژی شامل ساخته و در انکشاف متداوم پولیس ملی افغانستان مهم سراسری و ملی را تضمین نموده باشد.

آرزو مندم که پولیس ملی در آینده یکجا با جامعه مدنی کار نموده و در آینده بتوانیم به دستاورد های خوب نایل آیم."

آقای پتنگ که ریاست شورای مشورتی پولیس ملی را به عهده دارد افزود که آنان به مشارکت مردم در تصمیم گیری های امنیتی باور دارند و سهیم سازی مردم را در این روند مهم می دانند.

به باور آقای پتنگ مردم می تواند پولیس را در ساخت استراتیژی های حفاظتی و امنیتی برای تامین امنیت بهتر کمک کند.

به اساس معلومات وزارت داخله افغانستان شورای مشورتی پولیس ملی با هژده عضو به فعالیت اش در کابل آغاز کرده و قرار است اعضای این شورا در هر سه ماه یک یا دو بار نشستی را بر گزار نمایند.

در عین حال اعضای این شورا با اشاره به برخی مشکلات در این عرصه از وزارت داخله افغانستان خواستند تا بخاطر مردمی ساختن پولیس به مشوره های این شورا توجه جدی نماید.

صدیق الله توحیدی رئیس دیده بان اداره حمایت کننده رسانه های آزاد در افغانستان یا نی و یکی از اعضای شورای مشورتی پولیس ملی در مورد چنین گفت:

"مشوره های را که این شورا می دهد نباید غیر عملی باقی بماند، انجام تصامیم و مشوره های این شورا سبب خواهد شد که اعتماد پولیس دوباره اعاده شود و مردم افغانستان اعتماد کنند که پولیس ملی غیر سیاسی، بیطرف بوده و بخاطر حفظ امنیت مردم مصروف می باشد."

گزارش های از برخورد نادرست پولیس با مردم وجود دارد که گفته می شود این مساله سبب شده تا اعتماد مردم نسبت به پولیس کاهش یابد.

شماری از آگاهان می گویند که پولیس ملی کشور باید به سوی مسلکی شدن،غیر وابسته بودن و مردمی شدن به پیش برود.

پاکستان یو وار بیا پر کونړ ...

د کونړ ولایت چارواکو وویل چې په تېرو څلرویشت ساعتونو کې د دغه ولایت پر دانګام ولسوالۍ لړترلړه ۲۴ توغندي لګېدلي دي.

د کونړ والي فضل الله وحیدي د پاکستاني حملو د خبر د تاییدولو په ترڅ کې وویل چې تراوسه پورې د دغو بریدونو په نتیجه کې د مرګ ژوبلو په اړه حال نه لري.

ده دا هم وویل چې په تېره یوه میاشت کې د پاکستان له لوري پر کونړ ولایت تر سلو زیات توغندي ویشتل شوي دي.

تېره اوونۍ د پاکستاني پوځیانو په یوه حمله کې د کونړ په مروره ولسوالۍ کې لږترلږه دوې ښځې ووژل شوې او دوې نورې ژوبلې شوې.

د کونړ والي وایي چې په تېرو څلرویشت ساعتونو کې د کونړ د مروره ولسوالۍ پر شینکۍ، سور کمر، لوړ برول او څو نورو سیمو توغندي نښتي دي.

فضل الله وحیدي وویل چې:

پاکستان هر هغه مهال توغندویي بریدونو ته زور ورکوي چې په افغانستان کې د سولې بهیر قوت واخلي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

بیارخان خپل خان خوندي نه احساسوي

د وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې په لوګر کې د یوه هلي کوپټر د یرغمل شوې سپرلی په اړه مقاله خپره کړې ده.

ویل کېږي، چې په دې هلي کوپټر کې، چې د دوشنبې په شپه د هوا د خرابوالي په خاطر د لوګر په اذره ولسوالۍ کې بیړنی ناستې ته مجبور شوی وو ، لس تنه ملکي کسان سپاره وو او اته تنه يې ترکان دي.

د ترکيې د بهرنیو چارو وزارت د دوشنبې په ورځ له انقرې په یوه اعلامیه کې وویل، چې په افغانستان کې د دوي اته وګړي یرغمل شوي دي.

د ترکيې او روسيې چارواکو وویل، چې په دې هلي کوپټر کې اته تنه ترکي انجینیران، یو د هلي کوپټر روسی پیلوټ، یو قرغز کارکونکې او یو افغان پیلوټ سپاره وو ، چې ټول د طالبانو لاس ته ورغلي دي.

د وسله والو طالبانو ویاند د دوشنبې په ورځ په یوه اعلامیه کې وویل، چې بهرني ځواکونه غواړي د هلي کوپټر سپرلی ته د ملکي وګړو رنګ ورکړي خو له دې مسلې انکار کول ګټه نه لري څکه ټولو نیول شویو کسانو د امریکا د پوځ دریشي ګانې اغوستې وې، خو غربي مطبوعات وایي، چې په هلي کوپټر کې هیڅ امریکایي وګړی نه وو.

د ترکيې د بهرنیو چارو د وزارت یوه ویاند ویلي، چې دوي داسې اټکل کوي، چې د نیول شویو ترکانو روغتیایي حالت به ښه وي، څکه تر اوسه يې د اندیښنې وړ رپوټ نه دی اورېدلی.

وال سټریټ ژورنال د سیمه ییزو چارواکو په حواله وایي، چې هلي کوپټر د منګلو په دره کې ناستې ته اړ شوی وو، چې د لوګر ولایت یوه لرې پرته او خوار مېشتې سیمه ګڼل کېږي.

ورځپاڼه د اکثریت مسلمانانو هیواد، ترکیه د امریکا په مشرۍ د ایتلافي ځواکونو هغه غړې ګڼي ، چې ځواکونه يې په عمومي ډول په پوځي عملیاتو کې برخه نه اخلي.

انقره په عمومي ډول په اسلامي هیوادونو لکه مصر ، تونس او مراکش کې د اسلامپالو ګوندونو د واکمنۍ ملاتړ کونکې هم پاتې شوې ده .

د وال سټریټ ژورنال په لیکنه ، په سیمه کې د ترکيې زیاتیدونکي رسوخ ته په پام ، وسله والو طالبانو تیره میاشت هغه ترکي انجینیر بیرته خوشې کړ ، چې دوه کاله مخکې يې د مشکوکو فعالیتونو په تور نیولی وو .

وسله والو طالبانو د دې انجنیر تر خوشې کولو وروسته ویلي وو، چې هغه يې د ښه نیت له مخې په تګاب کې د ترکيې استازي ته په لاس ورکړ .

ټایمز ورځپاڼې د بیار خان ویاړ په نوم د هغه افغان پولیس د برخلیک کیسه کړې، چې د وسله والو طالبانو د شپږو انتحاري حمله کونکو په نیولو کې يې لاس درلود.

ټایمز وایي : بیار خان ویاړ په دې خبروو، چې د انتحاریانو د نیولو په خاطر به د طالبانو په قیمتي هدف بدل شي خو دا تمه يې نه درلوده، چې د ده مشر ان افسران به د طالبانو لپاره دې هدف ته رسیدل ډیر اسان کړي.

د ټایمز په وینا:

د حقاني شبکې تیر کال بیارخان ویاړ ته ویلي وو، چې که د یوې حملې په ترسره کولو کې مرسته ورسره وکړي، په پاکستان کې یو کور، دوه موټر او پنځوس زره ډالره به انعام ور کړي.

خو بیار خان هغوی وغولول او شپږ انتحاري حمله کونکي يې له چاودیدونکو موادو له لاری سره یو ځای ونیول .

د ملي پولیسو دا غړي په خپل دې کار د کورنیو چارو د وزیر مجتبی پتنګ تر دفتره ورسید او هلته يې یو مډال يې واخیست او په ځینې سیمیزو تلویزیونو کې مرکې خپرې شوې.

ټایمز د بیارخان له خولې لیکي، چې دې نوي شهرت د ده او د هغه کورنۍ امنیت ته شدید خطر پیښ کړی دی.

ده ټایمز ته ویلي :

"اوس مې هر څوک پیژني. خلک راپوري خاندي ، چې حکومت ته دې خدمت وکړو او هیڅ شي دې ونه ګټل."

ویاړ دلسو ماشومانو پلار دی.

له ده سره ، چې د لسو ماشومانو پلار دی د افغانستان حکومت د ترفیع ، څلرویشت زره ډالرو او په ولایت کې د یوې نمرې ځمکې ژمنه کړې وه .

خو بیار خان ویاړ ټایمز ورځپاڼې ته ویلي، چې یوازې د معاش لس فیصده يې د جایزې په رقم ترلاسه کړي او ترفیع يې هم ځنډول شوې ده .

ویاړ خان وایي:

"ما خپل ماشومان د اور خولې ته واچول څو له خپل هیواد سره مرسته وکړم او اوس د حقاني شبکه ګواښونه راته کوي. هغوي زما د وژلو لپاره لس لکه افغانۍ انعام ایښی دی."